فرستنده: محب سپین غر

۱۹ جولای ۲۰۱۱

## د اروابناد محمد شریف بهاند لنډ ژوند لیک



خدای بښلی محمد شریف بهاند د محمد عمر زوی د ۱۹۵۲ کال د فبروري په اتمه نېټه د کابل په بریکوټ کې زیږیدلی و.

لومړنی زده کړې یې د کابل دعلاءالدین په تجربوي ښوونځي او منځنی هغه یې د کابل د نجات په لیسه کې پای ته ورسولې .

۰۳. ۱۱-۱۹۶۱. ۱۹۷۳

لوړې زده کړې:

۰۳. ۱۱-۱۹۷۶. ۱۹۷۹ د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی:

څانګه: د پلان جوړولو دیپارټمنټ.

سند: لوړه درجه B. A Economic

۰۹. ۱۹۸۳-. ۱۰. ۱۹۸۵ د برلین د همبولت پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي نه په لوړه درجه د ماستری دیپلوم ترلاسه کول.

دندي:

۰۳. ۱۹۷۴-۰۲. ۱۹۷۶ د کابل ښاروالی د پلان جوړولو د څانګي کارکوونکی

۰۳. ۱۹۸۰-۰۶. ۱۹۸۱ د صدرات عظمی د تفتیش او کنترول د ریاست کارکوونکی

۰۷. ۱۹۸۱-۰۹. ۱۹۸۲ د پوځي خدمت تر سره کول

۰۹. ۱۹۸۲-۰۹. ۱۹۸۳ د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد

۱۱. ۱۹۸۵-۰۷. ۱۹۸۶ د افغانستان د علومو اکاډیمي د ټولنیزو علومو د څانګي علمی غړی

۰۸. ۱۹۸۶-۰۸. ۱۹۸۷ د افغانستان په پوځ کي د احتیاط د خدمت تر سره کول

۰۹. ۱۹۸۷-۰۹. ۱۹۸۸ د افغانستان د علومو اکاډیمي د علمی غړي په توګه دنده تر سره کول.

۰۹. ۱۹۸۸ د المان دیموکراتیک جمهوریت د همبولت له پوهنتون څخه د دوکتورا د بورس ترلاسه کول او دغه هیواد ته راتګ. د تیزس موضوع په پرمختیایي هیوادونو کي د سیمه ییزو پرمختیاوو له پاره د یوې ستراتیژی طرحه، د افغانستان په بیلګه یوه تاریخي ــ اقتصادي څېړنه

۰۲. ۱۹۹۵-۰۹.۱۹۹۶ د المان له یووالي نه وروسته د المان دیموکراتیک جمهوریت د ملی شتمنی د خصوصي کولو په شرکت کي دنده

۰۹. ۱۹۹۶-۰۷.۱۹۹۷ د منجمنت او اداري په یوه کورس کي ګډون. د کورس موضوع: د اقتصاد تصدی، منجمنت، محاسبه، د کار حقوق او کمپیوټري چارې.

۰۸. ۱۹۹۷- ۰۹. ۱۹۹۹ د المان په بیلا بیلو شرکتونو کي دنده تر سره کول او د تر څنګه یې د همبولت پوهنتون د ختیځ پیژندني په پوهنځی کي د پښتو ژبي تدریس او د افغانستان د ټولني او اقتصادي جوړښت په اړه سیمینارونه .

۰۹. ۱۹۹۹-۰۳. ۲۰۰۲ د پرمختیایي هیوادونو او افغانستان په اړه د څېړنیزو پروژو د غړی په توګه دنده تر سره او همدارنګه د ختیځ پیژندني په پوهنځی کي د پښتو ژبي د تدریس دوام.

۰۴. ۲۰۰۲- ۱۰. ۲۰۰۵ د دویچې ویلي په تلویزیون کي د پښتو د خپروني مشر.

۰۲. ۲۰۰۶-۰۲. ۲۰۰۷ د همبولت پوهنتون په چوکات کي د افغانستان د اوسنیو ستونزو په اړه د یوې څېرنیزې پروژې د غړی په توګه دنده تر سره کول.

۰۳. ۲۰۰۸ تر ۰۱. ۰۱. ۲۰۱۰ آزاده دنده. د کتابونو او مقالو لیکل او ژباړه :

- پرده دوم بازی بزرگ: تحقق منافع ستراتیژیک در پوشش دموکراسی، د خپریدو کال ۱۳۸۸
- د ارواسیا Eurasien پر سر سیالی، جیوپولتیکی څیړنه، خپریدو ته چمتو،
- نړیوالیدل، د یوویشتمي پیړی ستراتیژې، د ژباړو یوه ټولګه، خپریدو ته چمتو،
- د حقیقت ممنوع په نامه د بل کتاب ژباړه،
- د پرمختیایي هیوادونو اقتصادي سیاست
- د افغانستان په بېلګه، تر لیکني لاندې.

ځانګړتیاوې: په پښتو، دری ــ فارسی او المانی خبرې او لیکني او همدارنګه په همدې ژبو د نړیوال اقتصاد، سیاست او ټولنیزو ستونزو په باب په لسګوني څېرنیزې مقالي او لیکني. دا لیکني کولای شئ په افغانستان آزاد-آزاد افغانستان www.afgazad.com، افغان ــ جرمن www.afghan-german.de/index.asp، ټول افغان www.tolafghan.com او همدارنګه نورو افغاني ویب پاڼو کي وګوري او ولولي.

له ۰۱.۰۱. ۲۰۱۰ را پدېخواد المان په یوې اکادیمۍ کې د استاد په توګه دنده.

د افغانستان د ژبو تدریس، د هیواد د ټولنیز جوړښت او کلتور په اړه د سیمینارونو جوړول، د محصلینو د علمي لیکنو سمون او دوی ته په دې برخه کې لارښوونه .

ښاغلي بهاند واده کړی، زوی یې ارین نومیږي او دنهو کلونو دی. دغه راز هغه خپلې دوې وریرې هم لویې کړي او په ټول ژوند کې یې د هغوی روزنه، پالنه او ساتنه کوله.

له همدې امله ده هم پخپله، هم یې خپلوانو او هم نورو دوستانو دی د دربو ماشومانو پلار ګڼه.

ده د ورپېښې یوې لنډې، خو خورا وژونکې ناروغۍ له کبله د سرطان پر شپږویشتمه د یکشنبې پر سهار د برلین په یوه روغتون کې له دې فاني دنیا نه سترګې پټې کړې.

قالوا انا لله و انا الیه راجعون

ژوند یې تاسو ته دروباښه

ده ته له خدای (ج) نه فردوس جنت ، د روح ارامتیا او کورنۍ ته یې د جمیل او بې پایه صبر هیله لرو.